# اوسمهال د شري ناروغۍ

# خپره شوې ده

Adapted from Washington State Department of Health




**شری یوه ډېره ساري ناروغي ده چې د یو وایرس له امله رامنځته کېږي. دا ناروغي خطرناکه کېدای شي، په ځانګړي ډول د ماشومانو او وړو کوچنیانو لپاره. خپله کورنۍ او ټولنه خوندي کړئ.**

**شری د هوا له لارې خپرېږي کله چې ناروغ سړی ټوخیږي یا پرنجی کوي.** دا وېروس کولای شي له یوه ځای څخه د شري لرونکي کس له وتلو وروسته تر 2 ساعتونو پورې په هوا کې پاتې شي. دا ناروغي دومره ساري ده چې نږدې 9 له هر 10 کسانو څخه چې د شري له ناروغ سره نږدې تماس ولري او د واکسین له لارې خوندي نه وي، هم په دې ناروغۍ اخته کېږي.

---

**د شري ناروغۍ نښې نښانې د ویروس سره د تماس وروسته له 7 څخه تر 14 ورځو پورې څرګندیږي. د شري عامې نښې نښانې عبارت دي له:**



- **لوړه تبه** (ممکن د تودوخې درجه له 104 درجو فارنهایټ څخه لوړه شي)
- **ټوخی**
- **بهېدونکې پوزه**
- **سرې سترګې/ یا اوبلنې سترګې**
- **دانې** (دا دانې د نښو نښانو له را څرګندیدو څخه 3-5 ورځو کې پیلیږي)

**شری کولی شي جدي روغتیایي ستونزې رامنځته کړي، له هغې ډلې:**



- **د سږو پړسوب**
- **د دماغ پړسوب** (انسفلایټس)
- **ان ښایي مړینه**

## که تاسو فکر کوئ چې تاسې یا ستاسې په کورنۍ کې څوک شری لري:



- **په کور کې پاتې شئ** (کار، ښوونځي، کلیسا، هټۍ یا نورو عامه ځایونو ته مه ځئ؛ میلمانه مه رابلئ.)
- **لومړی <u>مخکې</u> تر دې چې د ډاکټر دفتر، بیړنۍ پاملرنې، یا بیړني خونې ته ولاړ شئ زنګ ووهئ.** هغوی ته خبر ورکړئ چې تاسو فکر کوئ چې شری لرئ. دوی کولی شي تاسو ته ووایي چې څنګه طبي پاملرنه په داسې طریقه ترلاسه کړئ چې ستاسو، روغتیایي کارمندانو او نورو ناروغانو لپاره خوندي وي.
- **که تاسې یا ستاسې د کورنۍ غړی طبي بیړني حالت سره مخ یاست،** لکه د تنفس ستونزه، ډېره لوړه تبه، یا بله جدي روغتیايي ستونزه، نو 1-1-9 ته زنګ ووهئ.

## که تاسې یا ستاسې د کورنۍ کوم غړی شری ولري، نو ممکن د روغتیا وزارت څخه تاسو ته تلیفون راشي.

- هغه معلومات چې تاسې يې شریکوئ ستاسې په ټولنه کې د نورو د ساتنې لپاره به وکارول شي.